د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه

قوه قضائیه

د دارالانشاء عمومي رياست
د تحريراتو آمريت
د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۳
نیټه: ۱۴۴۳/۷/۱۶ هق

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د افغانستان اسلامي امارت تميز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محاكمو ته!

السلام عليكم و رحمت الله و بركاته

وبعد: دارالانشاء رياست د تبديل محكمې د بعضو موضوعاتو په باره كې چې د شهري، استيناف يا تميز د يوه ديوان څخه و بل ديوان ته يې تبديل غوښتې وي، د ستري محكمې د عالي شورا محترم مقام ته داسې پيشنهاد كړی وو : ځيني موضوعات دارالانشاء رياست ته راځي او تبديل يې د يوه ديوان (د شهري، استيناف ، يا تميز) څخه وبل ديوان ته غوښتې وي، دغه تبديل هم د ابتدايې او استيناف د محكمو د تبديل په شان كېدلای سي او كه نه؟

او كه تبديل كېدلای سي نو په كومو شرائطو تبديل وركول مناسب دي.

د دارالانشاء رياست د فوق الذكر پيشنهاد په اړه د ستري محكمې عالي شورا لخوا د تصويب نمبر (۱) مورخ ۱۴۴۳/۶/۷ هق په توسط لاندي هدايت صادر شو:

((د شهري محكمې، د استيناف محكمې او د تميز عالي رياست د يوه ديوان څخه بل ديوان ته تبديل كېدلای سي خو شرائط غواړي چې تفصيل يې په لاندي ډول دی:

**د شهري محكمې د ديوانو د تبديل شرائط:**

۱- موضوع به د شهري محكمې په مربوطه ديوان كې جريان نه لري.

۲- د ديوان تبديل به د يوه ولايت څخه وبل ولايت ته نه وي بلكې په داخل د ولايت كې به وي.

۳- د شهري محكمې رئيس به تحريراً د تبديل غوښتونكي كس د تبديل غوښتلو عذر تائيد كړی وي.

يادونه: د شهري محكمې څخه تبديل غوښتل په ولايت كې و بلې ابتدائيه محكمې ته د نورو ابتدائيه محاكمو د تبديل په شان دی.

**د يوې ابتدائيې څخه بلې ابتدائيې ته د تبديل شرائط:**

۱- موضوع به په مربوطه محكمه كې جريان نه لري.

۲- د ابتدائيې تبديل به د يوه ولايت څخه وبل ولايت ته نه وي بلكې په داخل د ولايت كې به وي.

۳- د استيناف د محكمې رئيس به تحريراً د تبديل غوښتونكي كس د تبديل غوښتلو عذر تائيد كړی وي.

**د استيناف د ديوانو د تبديل شرائط:**

۱- موضوع به د استيناف په مربوطه ديوان كې جريان نه لري.

۲- د استيناف رئيس به تحريراً د تبديل غوښتونكي كس د تبديل غوښتلو عذر تائيد كړی وي.

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، كابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af

د تمیز عالي ریاست د دیوانو د تبدیل شرائط:

١- موضوع به د تمیز عالي ریاست په مربوطه دیوان کي جریان نه لري.

٢- د تمیز رئیس به تحریراً د تبدیل غوښتونکي کس د تبدیل غوښتلو عذر تائید کړی وي.

د یوه استیناف څخه بل استیناف ته د تبدیل شرائط:

١- موضوع به په مربوطه استیناف کي جریان نه لري.

٢- د مربوطه تمیز د رئیس لخوا به تحریراً د تبدیل غوښتونکي کس د تبدیل غوښتلو عذر تائید سوی وي.

د یوه تمیز څخه بل تمیز ته د تبدیل شرائط:

١- موضوع به په مربوطه تمیز کي جریان نه لري.

٢- د ستري محکمې د رئیس لخوا به تحریراً د تبدیل غوښتونکي کس د تبدیل غوښتلو عذر تائید سوی وي.

د فاسدي اداري لخوا د ورکړل سوي تبدیل حکم:

هغه تبدیل چي فاسدي اداري ورکړی وي بیا موضوع په هغه محکمه کي چي تبدیل ورته سوی دی جریان پیدا کړی وي یا نه په دواړو صورتونو کي دغه تبدیل قابل اعتبار نه دی موضوع به د یو جانب د عارض کېدلو په وخت و خپلي مربوطي محکمې ته حواله کیږي.))

په پورته ذکر شوي تصویب کي د درج شوي موضوعاتو په باره کي د دې متحدالمآل په استولو سره و ټولو تمیزونو، دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محاکمو ته خبر ورکول کیږي تر څو خپلي شرعي او اصولي کړني د هغې په رڼا کي برابري کړي.

په درنښت

۱۴ / ۷۸ / ۱۴۴۳ هق

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمې

د دارالانشاء رئیس

ستره محکمه

ریاست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لاری، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af